# وَ كَانَ مِنْ دُعَائِهِ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي مَكَارِمِ الْأَخْلَاقِ وَ مَرْضِيِّ الْأَفْعَالِ

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ بَلِّغْ بِإِيمَانِي أَكْمَلَ الْإِيمَانِ، وَ اجْعَلْ يَقِينِي أَفْضَلَ الْيَقِينِ، وَ انْتَهِ بِنِيَّتِي إِلَى أَحْسَنِ النِّيَّاتِ، وَ بِعَمَلِي إِلَى أَحْسَنِ الْأَعْمَالِ. اللَّهُمَّ وَفِّرْ بِلُطْفِكَ نِيَّتِي، وَ صَحِّحْ بِمَا عِنْدَكَ يَقِينِي، وَ اسْتَصْلِحْ بِقُدْرَتِكَ مَا فَسَدَ مِنِّي. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ اكْفِنِي مَا يَشْغَلُنِي الِاهْتِمَامُ بِهِ، وَ اسْتَعْمِلْنِي بِمَا تَسْأَلُنِي غَداً عَنْهُ، وَ اسْتَفْرِغْ أَيَّامِي فِيمَا خَلَقْتَنِي لَهُ، وَ أَغْنِنِي وَ أَوْسِعْ عَلَيَّ فِي رِزْقِكَ، وَ لَا تَفْتِنِّي بِالنَّظَرِ، وَ أَعِزَّنِي وَ لَا تَبْتَلِيَنِّي بِالْكِبْرِ، وَ عَبِّدْنِي لَكَ وَ لَا تُفْسِدْ عِبَادَتِي بِالْعُجْبِ، وَ أَجْرِ لِلنَّاسِ عَلَى يَدِيَ الْخَيْرَ وَ لَا تَمْحَقْهُ بِالْمَنِّ، وَ هَبْ لِي مَعَالِيَ الْأَخْلَاقِ، وَ اعْصِمْنِي مِنَ الْفَخْرِ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ لَا تَرْفَعْنِي فِي النَّاسِ دَرَجَةً إِلَّا حَطَطْتَنِي عِنْدَ نَفْسِي مِثْلَهَا، وَ لَا تُحْدِثْ لِي عِزّاً ظَاهِراً إِلَّا أَحْدَثْتَ لِي ذِلَّةً بَاطِنَةً عِنْدَ نَفْسِي بِقَدَرِهَا. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِ مُحَمَّدٍ، وَ مَتِّعْنِي بِهُدًى صَالِحٍ لَا أَسْتَبْدِلُ بِهِ، وَ طَرِيقَةِ حَقٍّ لَا أَزِيغُ عَنْهَا، وَ نِيَّةِ رُشْدٍ لَا أَشُكُّ فِيهَا، وَ عَمِّرْنِي مَا كَانَ عُمُرِي بِذْلَةً فِي طَاعَتِكَ،

**د ښو اخلاقو او غوره کړنو لپاره د امام دعا:**

ای څښتنه پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږه او زما ایمان تر ټولو د بشپړ ایمان تر حده ورسوه او زما یقین تر ټولو غوره یقین وګرځوه، زما نیت تر ټولو خوښ او عملونه مې تر ګردو د ښو عملونو پړاو ته ورسوه. ای پاکه خدایه په خپلې مهربانۍ سره زما نیت صفا خالص او سپیڅلی کړه په خپل رحمت سره زما باور کلك او په خپل وس سره زما ړنګوونې او خرابۍ روغې کانده. ای خدایه پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږه او ما له هغو مشغولتیاوو چې د عبادت خنډ وی بې نیازه کړه او یوازې پر هغو څیزونو د عمل توفیق راکړه چې سبا به یې رانه پوښتنه کوې. زما د ژوند ورځې د خلکو د اړتیاوو د پوره کولو لپاره بیلې کړه او ما له نورو بې نیازه کانده او زما رزق زیات او پراخ کړه په نیستۍ او محتاجۍ کښې مې مه پرېباسه.
عزت او درناوے راکانده په کبر او ویاړ کې مې مه ښکیلوه زما نفس د بندګۍ او عبادت لپاره رام کړه او په ځان خوښونې سره زما عبادت مه فاسدوه زما په لاس خلکو ته خیر ورسوه او کړه مې د احسان په اړولو سره مه ضایع کوه ماته لوړ اخلاق راکانده او له غرور او ویاړ خرخولو مې وساته ای خدایه پر محمد (ص) رحمت ولیږه او په خلکو کې چې زما مقام څومره لوړوی همدومره مې زما په خپلو سترګو کې سپك کانده او څومره چې ظاهری عزت راکوې همدومره زما په نفس کې د باطنی سپکاوی احساس پیدا کړه ای څښتنه پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږه او ما ته داسې نیك هدایت راپه برخه کړه چې په بل څه یې بدل نه کړم او په داسې نیغې لارې مې روان کانده چې هیڅ کله ترې مخ وانه ړوم او داسې پوخ نیت راکړه چې هیڅکله پکې شک ونه کړم او ترڅو چې زما ژوند ستا په منلې او اطاعت کې تیریږی ما ژوندے وساته

فَإِذَا كَانَ عُمُرِي مَرْتَعاً لِلشَّيْطَانِ فَاقْبِضْنِي إِلَيْكَ قَبْلَ أَنْ يَسْبِقَ مَقْتُكَ إِلَيَّ، أَوْ يَسْتَحْكِمَ غَضَبُكَ عَلَيَّ. اللَّهُمَّ لَا تَدَعْ خَصْلَةً تُعَابُ مِنِّي إِلَّا أَصْلَحْتَهَا، وَ لَا عَائِبَةً أُوَنَّبُ بِهَا إِلَّا حَسَّنْتَهَا، وَ لَا أُكْرُومَةً فِيَّ نَاقِصَةً إِلَّا أَتْمَمْتَهَا. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى

مُحَمَّدٍ وَ آلِ مُحَمَّدٍ، وَ أَبْدِلْنِي مِنْ بِغْضَةِ أَهْلِ الشَّنَآنِ الْمَحَبَّةَ، وَ مِنْ حَسَدِ أَهْلِ الْبَغْيِ الْمَوَدَّةَ، وَ مِنْ ظِنَّةِ أَهْلِ الصَّلَاحِ الثِّقَةَ، وَ مِنْ عَدَاوَةِ الْأَدْنَيْنَ الْوَلَايَةَ، وَ مِنْ عُقُوقِ ذَوِي الْأَرْحَامِ الْمَبَرَّةَ، وَ مِنْ خِذْلَانِ الْأَقْرَبِينَ النُّصْرَةَ، وَ مِنْ حُبِّ الْمُدَارِينَ تَصْحِيحَ الْمِقَةِ، وَ مِنْ رَدِّ الْمُلَابِسِينَ كَرَمَ الْعِشْرَةِ، وَ مِنْ مَرَارَةِ خَوْفِ الظَّالِمِينَ حَلَاوَةَ الْأَمَنَةِ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ اجْعَلْ لِي يَداً عَلَى مَنْ ظَلَمَنِي، وَ لِسَاناً عَلَى مَنْ خَاصَمَنِي، وَ ظَفَراً بِمَنْ عَانَدَنِي، وَ هَبْ لِي مَكْراً عَلَى مَنْ كَايَدَنِي، وَ قُدْرَةً عَلَى مَنِ اضْطَهَدَنِي، وَ تَكْذِيباً لِمَنْ قَصَبَنِي، وَ سَلَامَةً مِمَّنْ تَوَعَّدَنِي، وَ وَفِّقْنِي لِطَاعَةِ مَنْ سَدَّدَنِي، وَ مُتَابَعَةِ مَنْ أَرْشَدَنِي. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ سَدِّدْنِي لِأَنْ أُعَارِضَ مَنْ غَشَّنِي بِالنُّصْحِ، وَ أَجْزِيَ مَنْ هَجَرَنِي بِالْبِرِّ، وَ أُثِيبَ مَنْ حَرَمَنِي بِالْبَذْلِ، وَ أُكَافِيَ مَنْ قَطَعَنِي بِالصِّلَةِ، وَ أُخَالِفَ مَنِ اغْتَابَنِي إِلَى حُسْنِ الذِّكْرِ، وَ أَنْ أَشْكُرَ الْحَسَنَةَ

او کله چې د شیطان څرځای جوړ شی نو مخکې له دې چې ستا خپګان مې په ښنبه کړی یا راباندې ستا غضب یقینې شی وامی خله. ای معبوده! که کوم داسې خصلت لرم چې زما لپاره بد او ناوړه وی نو راسم ئې کړه او که کوم داسې عادت لرم چې پرې رټل کیدے شم نو هغه را جوړ او اصلاح کانده او کوم ښه خویونه مې چې لانیمګړی دی رابشپړ یې کړه. ای خدایه رحمت ولیږه پر محمد (ص) او د هغه پر آل او زما په باب د کینه کښو میرڅمنو دښمنی په مینې بدله کړه.د سرکښو حسد په محبت، په نیکانو بد اعتمادی په سم باور، د خپلوانو دښمنې په دوستۍ، د عزیزانو رشتې غوڅول په صله رحمۍ، د خپلو بې پروایی په مرستې او مدد، د غوره مالو ظاهري مینه په رښتنی الفت او د ملګرو سپکاوونکے سلوك په ښه چلند، او د ظالمانو د ویرې تراخه د امن په خوږو بدل کانده، لویه خدایه! رحمت ولیږه پر محمد (ص) او د هغه پر آل او څوك چې په ما ظلم وکړی پر هغه مې بر کړې او څوك چې راسره جنګیږی د هغه په وړاندې حجت شکنه ژبه راکړې څوك چې راسره میرڅی وکړی پر هغه برے او کامیابی راکړې او څوك چې راسره مکر وکړی د هغه مکر مات کاندې څوك مې چې وچقوی د هغه د پرزولو وس راکړې څوك چې مې بد وایې د هغه د دورغ ثابتولو طاقت راکړې او څوك مې چې وګوابنی له هغه مې خوندی کړې څوك چې مې سماونه کوی د هغه د منني او څوك چې نیغه لار راوښیی د هغه په پل د پل کیښودلو توفیق راکړې. ای څښتنه پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږې او ماته د دې چارې توفیق راکړې چې څوك راسره دوکه او چل وکړی د هغه خیر وغواړم او څوك چې مې پریږدي نیك چلند ورسره وکاندم ، څوك چې مې بې برخې کړی په بدل کې پرې ښندنه او سخا وکړم او څوك چې مې رحم غوڅ کړی له هغه سره صله رحمی وکړم او څوك چې پس شا زما بد ووایې زه یې په اپوټه ښه ووایم او په ښه سلوك شکر وکړم

وَ أُغْضِيَ عَنِ السَّيِّئَةِ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ حَلِّنِي بِحِلْيَةِ الصَّالِحِينَ، وَ أَلْبِسْنِي زِينَةَ الْمُتَّقِينَ، فِي بَسْطِ الْعَدْلِ، وَ كَظْمِ الغَيْظِ، وَ إِطْفَاءِ النَّائِرَةِ، وَ ضَمِّ أَهْلِ الْفُرْقَةِ، وَ إِصْلَاحِ ذَاتِ الْبَيْنِ، وَ إِفْشَاءِ الْعَارِفَةِ، وَ سَتْرِ الْعَائِبَةِ، وَ لِينِ الْعَرِيكَةِ، وَ خَفْضِ الْجَنَاحِ، وَ حُسْنِ السِّيرَةِ، وَ سُكُونِ الرِّيحِ، وَ طِيبِ الْمُخَالَقَةِ، وَ السَّبْقِ إِلَى الْفَضِيلَةِ، وَ إِيثَارِ التَّفَضُّلِ، وَ تَرْكِ التَّعْيِيرِ، وَ الْإِفْضَالِ عَلَى غَيْرِ الْمُسْتَحِقِّ، وَ الْقَوْلِ بِالْحَقِّ وَ إِنْ عَزَّ، وَ اسْتِقْلَالِ الْخَيْرِ وَ إِنْ كَثُرَ مِنْ قَوْلِي وَ فِعْلِي، وَ اسْتِكْثَارِ الشَّرِّ وَ إِنْ قَلَّ مِنْ قَوْلِي وَ فِعْلِي، وَ أَكْمِلْ ذَلِكَ لِي بِدَوَامِ الطَّاعَةِ، وَ لُزُومِ الْجَمَاعَةِ، وَ رَفْضِ أَهْلِ الْبِدَعِ، وَ مُسْتَعْمِلِ الرَّأْيِ الْمُخْتَرَعِ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ اجْعَلْ أَوْسَعَ رِزْقِكَ عَلَيَّ إِذَا كَبِرْتُ، وَ أَقْوَى قُوَّتِكَ فِيَّ إِذَا نَصِبْتُ، وَ لَا تَبْتَلِيَنِّي بِالْكَسَلِ عَنْ عِبَادَتِكَ، وَ لَا الْعَمَى عَنْ سَبِيلِكَ، وَ لَا بِالتَّعَرُّضِ لِخِلَافِ مَحَبَّتِكَ، وَ لَا

مُجَامَعَةِ مَنْ تَفَرَّقَ عَنْكَ، وَ لَا مُفَارَقَةِ مَنِ اجْتَمَعَ إِلَيْكَ. اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي أَصُولُ بِكَ عِنْدَ الضَّرُورَةِ، وَ أَسْأَلُكَ عِنْدَ الْحَاجَةِ، وَ أَتَضَرَّعُ إِلَيْكَ عِنْدَ الْمَسْكَنَةِ، وَ لَا تَفْتِنِّي بِالِاسْتِعَانَةِ بِغَيْرِكَ إِذَا اضْطُرِرْتُ، وَ لَا بِالْخُضُوعِ لِسُؤَالِ غَيْرِكَ إِذَا افْتَقَرْتُ، وَ لَا بِالتَّضَرُّعِ إِلَى مَنْ دُونَكَ إِذَا رَهِبْتُ، فَأَسْتَحِقَّ بِذَلِكَ خِذْلَانَكَ وَ مَنْعَكَ وَ إِعْرَاضَكَ،

او په بدیو سترګې پټې کړم ای ښتنه پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږه او ما د عدل په خپرولو، د غصی په زغملود فتنې په مړولو، د تیت و پرکو خلکو په غونډولو، د سولی صفائی په کولو، د نیکیو په ښکندولو، په عیبو په پرده اچولو، نرم خوئی او عاجزی، د ښه چلند په خپلولو، د راشه درشه او د ځان د سم ساتلو له نورو سره د ښه اخلاق د چلند، د لوړاوی په لور د پرمختګ، د فضل احسان د غوره ګڼلو، په نورو کې د عیبونو له لټولو او په هغوی د ټکونو له کولو ځخه د بچ کیدا، له غیر مستحقو سره له ښه سلوکه د ځان ساتلو، او د حق خبرې په ویلو کې که څه هم ګرانه وی او د خپلې دنیا او عمل د ښه والی په کم ګڼلو کې که څه هم زیاته وی او د خپلې ژبې او کړو د بدیو په زیات ګڼلو که څه هم کم وی په دغو ټولو کې ما د نیکانو په ګاڼه آغلے کړه او د پرهیز ګارو په کالو مې سینګار کانده او دغه ټول ځیزونه په همیشنئ اطاعت، له جماعت سره په یو ځای کیدا او د بدعت د خاوندانو او د خپلې خوښې په رایو له عمل کوونکو ځخه په جدائی سره بشپړتیا ته ورسوه. ای الله! رحمت ولیږه پر محمد (ص) او د هغه پر آل او کله چې زه بوډا شم نو زما لپاره خپله پراخه روزی وټاکه او کله چې عاجز او پاتې شم نو په خپل قوی طاقت سره زما لاس ونیسه او ما په دې چارې مه ښکیلوه چې ستا په عبادت کې سستی او کاهلی وکړم او ستا د لارې په پیدا کولو کې ورك شم ستا د مینې له غوښتنتو سر وغړوم او کوم چې له تا لرې او خواره وی له هغو سره ناسته پاسته ولرم او څوك چې ستا په لور درمخکې کیدونکی دی له هغو جدا شم. خدایه ما داسې وګرځوه چې د ضرورت په وخت ستا په وسیله برید وکړم. د اړتیا په وخت تا ته لاس وغځوم او د فقر او بیوزلی په وخت تا ته زاری وکاندم او ما داسې مه آزمایه چې د ضرورت او مجبوری په شیبو کې له بل چا مرسته وغواړم او د نیستی او فقیری په وخت بل چا ته خپلې غوښتنې یوسم او د ویرې په وخت له تا پرته بل چا ته ژړا او زاری وکړم چې ستا لخوا د محرومی، نانګاری او ناکامی وړ وګرځم

يَا أَرْحَمَ الرَّاحِمِينَ. اللَّهُمَّ اجْعَلْ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ فِي رُوعِي مِنَ التَّمَنِّي وَ التَّظَنِّي وَ الْحَسَدِ ذِكْراً لِعَظَمَتِكَ، وَ تَفَكُّراً فِي قُدْرَتِكَ، وَ تَدْبِيراً عَلَى عَدُوِّكَ، وَ مَا أَجْرَى عَلَى لِسَانِي مِنْ لَفْظَةِ فُحْشٍ أَوْ هُجْرٍ أَوْ شَتْمِ عِرْضٍ أَوْ شَهَادَةِ بَاطِلٍ أَوِ اغْتِيَابِ مُؤْمِنٍ غَائِبٍ أَوْ سَبِّ حَاضِرٍ وَ مَا أَشْبَهَ ذَلِكَ نُطْقاً بِالْحَمْدِ لَكَ، وَ إِغْرَاقاً فِي الثَّنَاءِ عَلَيْكَ، وَ ذَهَاباً فِي تَمْجِيدِكَ، وَ شُكْراً لِنِعْمَتِكَ، وَ اعْتِرَافاً بِإِحْسَانِكَ، وَ إِحْصَاءً لِمِنَنِكَ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ لَا أُظْلَمَنَّ وَ أَنْتَ مُطِيقٌ لِلدَّفْعِ عَنِّي، وَ لَا أَظْلِمَنَّ وَ أَنْتَ الْقَادِرُ عَلَى الْقَبْضِ مِنِّي، وَ لَا أَضِلَّنَّ وَ قَدْ أَمْكَنَتْكَ هِدَايَتِي، وَ لَا أَفْتَقِرَنَّ وَ مِنْ عِنْدِكَ وُسْعِي، وَ لَا أَطْغَيَنَّ وَ مِنْ عِنْدِكَ وُجْدِي. اللَّهُمَّ إِلَى مَغْفِرَتِكَ وَفَدْتُ، وَ إِلَى عَفْوِكَ قَصَدْتُ، وَ إِلَى تَجَاوُزِكَ اشْتَقْتُ، وَ بِفَضْلِكَ وَثِقْتُ، وَ لَيْسَ عِنْدِي مَا يُوجِبُ لِي مَغْفِرَتَكَ، وَ لَا فِي عَمَلِي مَا أَسْتَحِقُّ بِهِ عَفْوَكَ، وَ مَا لِي بَعْدَ أَنْ حَكَمْتُ عَلَى نَفْسِي إِلَّا فَضْلُكَ، فَصَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ تَفَضَّلْ عَلَيَّ. اللَّهُمَّ وَ أَنْطِقْنِي بِالْهُدَى، وَ أَلْهِمْنِي التَّقْوَى، وَ وَفِّقْنِي لِلَّتِي هِيَ أَزْكَى، وَ اسْتَعْمِلْنِي بِمَا هُوَ أَرْضَى. اللَّهُمَّ اسْلُكْ بِيَ الطَّرِيقَةَ الْمُثْلَى، وَ اجْعَلْنِي عَلَى مِلَّتِكَ أَمُوتُ وَ أَحْيَا. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ،

ای تر ټولو رحم کوونکیو زیات رحیمه خدایه! د حرص بدګمانی، حسد او ځیل هغه جذبې چې شیطان زما په زړه کې پیدا کړی هغه د خپل عظمت په یادولو ستا په وس کې په ځیرتیا او د دښمن په وړاندې د کومې چارې او د تدبیر د کولو په

خیالونو بدلې کړی او کنځل زیږې، سپوږې سپکې چټیاتو ، نورو ته بدې ردې ویل، دروغه ګواهی، د غائب مومن غیبت یا له موجودو کسانو سره بدې خبرې یا داسې نورې خبرې که شیطان زما په خولې راوستل غواړی نو هغه په خپلې لمانځنې د خپلې ستاینې په هاند او ځیرتیا ، ستا د سترتوب په بیانولو ، د لورینو او نعمتونو په شکر، د احسانونو په اعتراف او ستا د نعمتونو په شمیرلو بدل کاندې. ای الله پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت واستوه او په ما ظلم ونه شی حال دا چې ته د دغه ظلم د غړولو وس لرې او زه په چا ظلم ونه کړم حال دا چې ته دا وس لرې چې ما د ظلم له کولو منعې کړې او زه لاره ورکه نه کړم په داسې حال کې چې ماته لارښوونه تا ته اسانه ده او اړمن نه شم حال دا چې زما هوساینه ستا لخوا ده او سرکښه او سرغړاندے نه شم په داسې حال کې چې زما خوشحالی ستا لخوا ده ای ښښتنه زه ستا د بخښنې په لور راغلے یم، ستا د عفوې غوښتندوے او ستا د تیریدنې لیوال یم زه یوازې ستا په فضل باور لرم او له ماسره هیڅ داسې ځیز نیشته چې زما د مغفرت سبب شی او نه مې په کړن پانې کې داسې څه شته چې ستا د عفوې وړ وګرځم او اوس له دې وروسته چې ما پخپله د ځان په خلاف فیصله کړې نو ستا پر فضل سربیره زما د امید پانګه او د هیلې ځای بل کوم کیدے شی نو پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږه او په ما فضل وکړه خدایه زما ژبه په هدایت سره پرانیزه زما په زړه کې تقوی او پرهیز ګاری واچوه د پاك عمل توفیق راکړه په خوښ او ښه کار کې مې لګیا وساته خدایه ما په غوره لاره روان کانده او داسې مې کړه چې ستا په دین او لارې ومرم او په همدې وپایم. ای خدایه! پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږه

وَ مَتِّعْنِي بِالاقْتِصَادِ، وَ اجْعَلْنِي مِنْ أَهْلِ السَّدَادِ، وَ مِنْ أَدِلَّةِ الرَّشَادِ، وَ مِنْ صَالِحِ الْعِبَادِ، وَ ارْزُقْنِي فَوْزَ الْمَعَادِ، وَ سَلَامَةَ الْمِرْصَادِ. اللَّهُمَّ خُذْ لِنَفْسِكَ مِنْ نَفْسِي مَا يُخَلِّصُهَا، وَ أَبْقِ لِنَفْسِي مِنْ نَفْسِي مَا يُصْلِحُهَا، فَإِنَّ نَفْسِي هَالِكَةٌ أَوْ تَعْصِمَهَا. اللَّهُمَّ أَنْتَ عُدَّتِي إِنْ حَزِنْتُ، وَ أَنْتَ مُنْتَجَعِي إِنْ حُرِمْتُ، وَ بِكَ اسْتِغَاثَتِي إِنْ كَرِثْتُ، وَ عِنْدَكَ مِمَّا فَاتَ خَلَفٌ، وَ لِمَا فَسَدَ صَلَاحٌ، وَ فِيمَا أَنْكَرْتَ تَغْيِيرٌ، فَامْنُنْ عَلَيَّ قَبْلَ الْبَلَاءِ بِالْعَافِيَةِ، وَ قَبْلَ الطَّلَبِ بِالْجِدَةِ، وَ قَبْلَ الضَّلَالِ بِالرَّشَادِ، وَ اكْفِنِي مَئُونَةَ مَعَرَّةِ الْعِبَادِ، وَ هَبْ لِي أَمْنَ يَوْمِ الْمَعَادِ، وَ امْنَحْنِي حُسْنَ الْإِرْشَادِ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ ادْرَأْ عَنِّي بِلُطْفِكَ، وَ اغْذُنِي بِنِعْمَتِكَ، وَ أَصْلِحْنِي بِكَرَمِكَ، وَ دَاوِنِي بِصُنْعِكَ، وَ أَظِلَّنِي فِي ذَرَاكَ، وَ جَلِّلْنِي رِضَاكَ، وَ وَفِّقْنِي إِذَا اشْتَكَلَتْ عَلَيَّ الْأُمُورُ لِأَهْدَاهَا، وَ إِذَا تَشَابَهَتِ الْأَعْمَالُ لِأَزْكَاهَا، وَ إِذَا تَنَاقَضَتِ الْمِلَلُ لِأَرْضَاهَا. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ تَوِّجْنِي بِالْكِفَايَةِ، وَ سُمْنِي حُسْنَ الْوِلَايَةِ، وَ هَبْ لِي صِدْقَ الْهِدَايَةِ، وَ لَا تَفْتِنِّي بِالسَّعَةِ،

او ما په وینا او عمل کې له مینځ لاری برخمن کړه او په نیك عملو ، د هدایت په لارښوونکو او نیکو بندګانو کې مې وټاکه او د اخرت کامیابی او له دوزخه سلامتیا راپه برخه کړه. ای خدایه! زما د نفس یوه برخه د خپل ازمیښت او امتحان لپاره بیله کړه چې دا له عذابه وژغول شی او یو بله برخه چې د دې دنیا اصلاح او سمونه وریپورې تړلې ده زما لپاره پاتې کړې ځکه چې زما نفس خو غرقیدونکے دے خو دا چې ته یې وساتې ای خدایه! که زه غمژن شم نو زما د خوښۍ وسیله ته یې او که له هر ځایه نا امیده شم نو د هیلې ځای مې ته یې او که غمونه راباندې یرغل وکړی نو هم تا ته فریاد او کوکارې وهم کوم ځیز چې له لاسه تللے د هغه بدله، او کوم شی چې تباه شوی د هغه سماونه او کوم شی چې ستا ناخوښ وي د هغه بدلول ستا په لاس کې دی نو د بلا له نازلیدلو مخکې په عافیت ، له غوښتلو مخکې په خوشحالۍ او له بې لارې توبه مخکې په لارښوونې سره په ما احسان وکړه .او د خلکو د سختو او ترخو خبرو له کړاوه مې خوندې وساته او د قیامت په ورځ امن او ډاډ راکړه او د ښه هدایت توفیق راپه برخه کړه ای الله !په محمد او دهغه په آل رحمت ولیږه او په خپل رحمت سره ( بدی) له ما لیرې کړه او په خپل نعمت سره مې وروزه، په خپل کرم سره مې اصلاح وکړه او په خپل فضل او احسان سره ( له جسماني او نفساني

ناروغیو) زما درملنه وکړه . ماته د خپل رحمت په سیوري کې ځای راکړه و په خپلې رضا کې مې ونغاړه او کله چې راباندې چارې مشتبهې شي نو کومه چې ډېره صحیح وي او کله چې په عملونو کې اشتباه وشي نو کوم چې پکې تر ټولو پاک وي او کله چې په مذهبونو کې اختلاف پیدا شي نو کوم چې پکې تر ټولو غوره او خوښ وي په هغه باندې د عمل کولو توفیق راکانده. ای الله ! پر محمد او دهغه په آل رحمت ولیږه او د بې نیازۍ تاج راپه سر کړه او په غوره طریقه د چارو د کولو دنده راوسپاره او په داسې هدایت مې سرلوړی کړه چې دوام او ثبات ولري

وَ امْنَحْنِي حُسْنَ الدَّعَةِ، وَ لَا تَجْعَلْ عَيْشِي كَدّاً كَدّاً، وَ لَا تَرُدَّ دُعَاءِي عَلَيَّ رَدّاً، إِنِّي لَا أَجْعَلُ لَكَ ضِدّاً، وَ لَا أَدْعُو مَعَكَ نِدّاً. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ امْنَعْنِي مِنَ السَّرَفِ، وَ حَصِّنْ رِزْقِي مِنَ التَّلَفِ، وَ وَفِّرْ مَلَكَتِي بِالْبَرَكَةِ فِيهِ، وَ أَصِبْ بِي سَبِيلَ الْهِدَايَةِ لِلْبِرِّ فِيمَا أُنْفِقُ مِنْهُ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ اكْفِنِي مَئُونَةَ الِاكْتِسَابِ، وَ ارْزُقْنِي مِنْ غَيْرِ احْتِسَابٍ، فَلَا أَشْتَغِلَ عَنْ عِبَادَتِكَ بِالطَّلَبِ، وَ لَا أَحْتَمِلَ إِصْرَ تَبِعَاتِ الْمَكْسَبِ. اللَّهُمَّ فَأَطْلِبْنِي بِقُدْرَتِكَ مَا أَطْلُبُ، وَ أَجِرْنِي بِعِزَّتِكَ مِمَّا أَرْهَبُ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ صُنْ وَجْهِي بِالْيَسَارِ، وَ لَا تَبْتَذِلْ جَاهِي بِالْإِقْتَارِ فَأَسْتَرْزِقَ أَهْلَ رِزْقِكَ، وَ أَسْتَعْطِيَ شِرَارَ خَلْقِكَ، فَأَفْتَتِنَ بِحَمْدِ مَنْ أَعْطَانِي، وَ أُبْتَلَى بِذَمِّ مَنْ مَنَعَنِي، وَ أَنْتَ مِنْ دُونِهِمْ وَلِيُّ الْإِعْطَاءِ وَ الْمَنْعِ. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ ارْزُقْنِي صِحَّةً فِي عِبَادَةٍ، وَ فَرَاغاً فِي زَهَادَةٍ، وَ عِلْماً فِي اسْتِعْمَالٍ، وَ وَرَعاً فِي إِجْمَالٍ. اللَّهُمَّ اخْتِمْ بِعَفْوِكَ أَجَلِي، وَ حَقِّقْ فِي رَجَاءِ رَحْمَتِكَ أَمَلِي، وَ سَهِّلْ إِلَى بُلُوغِ رِضَاكَ سُبُلِي، وَ حَسِّنْ فِي جَمِيعِ أَحْوَالِي عَمَلِي. اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، وَ نَبِّهْنِي لِذِكْرِكَ فِي أَوْقَاتِ الْغَفْلَةِ،

او ما په بدایتوب او هوساینې سره بې لارې نه کړي او داسې راحتي او پریماني راکړه چې ژوند مې سخت او ستونزمن نه کړي. زما دعا مه ردوه ځکه چې زه هیڅوک ستا په مقابله کې نه دروم او نه هم څوک ستا سیال ګڼم چې وبې بلم . ای الله! پر محمد او دهغه پر آل رحمت ولیږه او ما له فضول خرچۍ وساته او زما روزي مه تباه کوي زما په مال کې برکت کیږده او زیات یې کړه او د خیر په چارو کې د مال په لګولو سره مې د حق او سمې لارې ته ورسوه . ای ربه!په محمد او دهغه پر آل رحمت ولیږه او ما د روزۍ د ګټلو له غم او درده بې نیازه کړه او بې حسابه روزی راکانده چې د روزۍ په لټه کې په بوختیاو سره ستا له عبادته مخ وانه ړوم او د غلط او ناروا روزګار تاوان ونه زغمم. ای څښتنه زه چې څه غواړم په خپل قدرت یې برابر کانده او له کوم څیز چې ویریږم په خپل عزت او جلال له هغې راته پناه راکړه. خدایه! زما عزت او حیا په بې نیازۍ او شتمنۍ سره خوندی کړه او په فقر غریبۍ او بیوزلۍ سره د نورو په سترګو کې ما سپکوه چې له تا د رزق غوښتونکو څخه رزق وغواړم.او ستا د سپکو بندګانو د مهربانۍ د نظر د راواړیدو هیله او ارزو وکړم او څوك چې څه راکړی د هغه په ستاینه او غوړونه او څوك چې څه رانه کاندی د هغه په بد ویلو لګیاشم او هم ته د ورکړې او نه ورکولو وس او اختیار لرې نه هغه ای خدایه! پر محمد (ص) او د هغه پر آل رحمت ولیږه او ماته داسي صحت او روغتیا راکانده چې د عبادت په کار راشی او داسي فرصت چې له دنیا څخه د مزی په پریکولو کې تیر شی او داسي علم چې له عمل سر مل وی او داسې تقوی چې د اعتدال او انډول په حد کې وی (چې په وسواس کې ګیر نه شم). ای خدایه! زما د ژوند موده په خپلې بخښنې او تیریدنی سره ختمه کړه او زما ارمان د رحمت په امید کې کامیاب کړه او خپلې خوښۍ ته د رسیدا لپاره لاره اسانه کانده او په هر حال کې زما عمل ښه کړه او ما د غفلت په شیبو کې د خپلې یادونې لپاره هوښیار کړه

وَ اسْتَعْمِلْنِي بِطَاعَتِكَ فِي أَيَّامِ الْمُهْلَةِ، وَ انْهَجْ لِي إِلَى مَحَبَّتِكَ سَبِيلًا سَهْلَةً، أَكْمِلْ لِي بِهَا خَيْرَ الدُّنْيَا وَ الْآخِرَةِ. اللَّهُمَّ وَ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَ آلِهِ، كَأَفْضَلِ مَا صَلَّيْتَ عَلَى أَحَدٍ مِنْ خَلْقِكَ قَبْلَهُ، وَ أَنْتَ مُصَلٍّ عَلَى أَحَدٍ بَعْدَهُ، وَ آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَ فِي الْآخِرَةِ حَسَنَةً، وَ قِنِي بِرَحْمَتِكَ عَذَابَ النَّارِ.

او د مهلت په ورځو کې مې په اطاعت کې بوخت وساته او د خپلې مینې اسانه او راحته لاره ماته پرانیزه. او د دې په وسیله زما لپاره د دنیا او آخرت ښیګړي بشپړه کړه. ای خدایه! پر محمد (ص) د هغه پر آل ډیر ښه رحمتونه ولیږه داسې رحمت چې تر دې مخکې تا په خپلو مخلوقاتو کې په یو بنده نازل کړے وی او تر دې وروسته یې په کوم بنده نازلوې او موږ ته په دنیا کې هم نیکی راکړه او په آخرت کې هم په خپل رحمت سره موږ د دوزخ له عذابه خوندی وساته.

## سپړنه

په لومړی او ځغلنده نظر کې په نیکیو او بدیو کې فرق نه کیږی ځکه چې ښه او بد کړه په ظاهری شکل کې یو شان وی او کوم توپیر پکې نه ښکاری د ساری په توګه د ښځې او سړی تعلقات که هغه روا وی او که ناروا یو شان وی همدا راز بې مصلحته او بامصلحته دروغ ،د حلالو او حرامو خوړل او په بیګناه او خطایې وژلې کې په ظاهره څه فرق نه ښکاری هلته هم د یو کار پیښیدل او دلته هم دلته هم له یو سره لوبې کول دی په یو کې هم د خیټې ډکول وی او په بل کې هم همدا شان په روژه کې یا په کوژه کې د خوراك کول په ظاهره هیڅ توپیر نه لری نو له دې سره سره ولی یو ته ښه او بل ته بد ، یو ته روا او بل ته ناروا او یو ته د ثواب او بل ته د عذاب کار ویل کیږی د دې توپیر ضرورت څه دے؟

که څه هم له حدونو او پولو ازادی سترګې په دې کې فرق نه کوی خو کوم خلك چې د یو دین او شریعت او اخلاقو پابند وی او د دغو چارو په ظاهری یو شان والی او ورته والی نظر نه کوی بلکې د دغو تر منځ کښل شوی کرخې ته ګوری هغوی دا دواړه بیخی له یو او بله جدا ګڼی او په دغې کرښې او حد سره د خیر او شر حدونه او پولې جوړوی او د بدیو یا ښیګړو پارسنګ ټاکې او دا پوله هغه وخت ښکاری چې له ایمان سره سره د تقوی رڼا هم موجوده وی لکه څنګه چې خدای تعالی فرمایي:

«یاایهاالذین امنوا ان تتقوا الله یجعل لکم فرقاناً» (ای ایمان لرونکو که تاسو تقوی او پرهیز ګاری ته مخ کړئ نو خدای پاك به درته د نیکو او بدو تر مینځ یوه پوله او واټن جوړ کړی)

که په دغې پولې او کرښې سترګې پټې کړو او د ښو او بدو اخلاقو معیار او پارسنګ د عامو خلك عقل وټاکو نو که څه هم دغه عقل تر یوه حده د اخلاقی اصولو لاربښوونه کوی خو د اخلاقو عملی لایحه او پروګرام نه شی وړاندې کولے. نو څوك چې په عقل باندې د اخلاقو بنیاد ږدی هغوی دا نه وایې چې رښتیا ویل، انصاف او میړانه او ښیندنه بده ده او ګوندې ظلم او زیاتی ښه صفتونه دی خو دا چې د دغو څیزونو حدود او د استعمال ځایونه کوم کوم دی په دې کې د دوی رای او خیالات بیلابیل دی او یو عقل په یوه لاره روان دے نو بل په بله ځکه چې د بیلابیلو پوهو او عقلونو نظریې په یو ټکی نه شی راغونډیدے په داسې ښه کې په دغو اصولو د عمل کولو په په وخت قدم په قدم خنډونه رامنځته کیږی او له بیلا بیلو او ډول ډول نظریو څخه د سم نظر غوره کول ګران دی. پر دې سربیره د عقل د عمل کړی تنګه او محدوده ده او هغه د محسوساتو له دنیا بهر هیڅ فیصله نه شی کولے او ګام په ګام د حواسو دلاسه او سهارا غواړی او د دې په وړاندې خواهشات او جذبات هم نیغه سینه ولاړ دی او عقل تسلمیدو ته مجبور وی لکه چې د انسان احساسات او جذبې راوپاریږی او هغه د عقل په پرتله له خواهشاتو او جذباتو زر متاثره کیږی او د عقل جوت امرونه غورځوی او د جذبو او خواهشونو لمنه نیسی نو عقل نه په یوازی سر پارسنګ او معیار جوړیدی شی او نه د ښو او بدو د پېژندلو لپاره کافی دے او د عقل په رڼا کې د ټولنیز ژوند نصب العین او کړنلاره خو لا څه کوی د وګړنیز ژوند لپاره هم کوم سم روغ او نه بدلیدونکے اخلاقی قانون نه شو جوړولے نو په داسې حالاتو کې د یو داسې معیار او پارسنګ ضرورت پیښیږی چې په کومو ځایونو کې عقل پاتې راشی هغه یې لاس ونیسی او یو داسې نه بدلیدونکے او نه خرابیدونکی قانون او اصول وړاندی کړی چې د انسان د ژوند په هر پړاو کې پرې عمل کیدے شی. او دغه معیار د خدای تعالی وحی ده اود وحی په رڼا کې جوړ شوے قانون او دین هغه دین دے چې اصول یې ټینګ او قانونه یې نه بدلیدونکی دی او دا د نبوت او رسالت لرونکو په هره زمانه کې راوړی دی او د دې په سیوری کې یې د نفس د پاکې او د اخلاقو د تزکیې سبق ورکړے دے د اخلاقو په دغو استادانو کې تر ټولو لوړه درجه زموږ د قدرمن پیغمبر حضرت محمد (ص) ده چا چې د اخلاقو په ګاڼه د سینګاریدو او د انسانیت د پریشانو زلفو د سر څنه کولو او پیرلو لپاره داسې سبقونه ورکړل چې د ښو اخلاقو څپانده چینې دی دا تعلیمات یوازې د ژبې تر حده راالنډ نه وو بلکه د هغه حضرت د ژوند یوه یوه شیبه د سیرت او رودې د پاکې یوه ضابطه او د ښو اخلاقو یو ژوندے قانون و' او د هغه حضرت د بعثت موخه همدا وه چې عملاً او علماً ښه اخلاق بشپړ کړی لکه څنګه چې د خدای ګران رسول فرمایي:

«انما بعثت لاتمم مکارم الاخلاق» زه د دې لپاره ګمارل شوے یم چې نیك اخلاق پوره کړم او د دغو اخلاقي ښودنو د ژوندی لپاره ساتلو پاره د هغوی و صیان او ځای ناستی چې په اخلاقو او کړو کې د هغوو میرا پال او په علم و عمل کې د هغوی هنداري وی دغه تعلیمونه خپاره او په خپلو عملونو سره ژوندی وساتل او د هغوی ځلورم ځای ناستی حضرت زین العابدین په دې مکارم اخلاق دعا کې د اخلاقیاتو هغه سبقونه ښودلی چې د نبوی اخلاقو هنداري او د خدايې تعلیماتو لرونکی دی او هغه ټولې فن پارې او ملغلرې یې پکې پیلی چې د په تحلی بالفضال (په علمی او عملی صفتونو آغلی کیدل) او تخلی عن الرذایل (له سپکو او پریوتو صفتونو پاکیدل) پکې شامل دی او که په دغو دوو اړخونو کې یو اړخ کمزورے وی نو په بل ارو مرو اغیزه شیندی نو له دې امله د اخلاقی بشپړتیا لپاره د دغو سلبی او ایجابی دواړو خواو خیال ساتل ضروی دی. هغه ایجابی صفتونه چې په دې دعا کې ذکر شوی دا دی.

ایمان:

دا د ټولو ښیګړو او سوتره اخلاقو سرچینه ده نو ځکه یې په سر کې راوړی ده د ایمان معنی تصدیق ده او کله کله تصدیق او عمل دواړو ته ایمان وایې ایمان بیلابیل پړاوونه لری او د ایمان د خاوندانو په درجو او پړاوونو کې چې کوم توپیر ښکاری هغه د ایمان د درجو په ټیټېدو او هسکیدو پورې اړه لری زبیری وایې چې ما د امام جعفر صادق په مخکې وویل چې:

«ان للایمان درجات و منازل یتفاضل المومنون فیها عند الله» «ایمان بیلا بیل پړاوونه او مرتبې لری او د هغو له مخې ایمان راوړنکی د خدای په نزد له یو او بله مخکې کیږی»

امام وفرمایل هو همداسې ده د ایمان لومړے پړاو دا دے چې یوازې په ژبې سره د خدای د الوهیت او د پیغمبر د رسالت اقرار وی او بس. دې ایمان ته اسلام وایې او کله چې یو انسان دا اقرار وکړي نو هغه ته مسلمان وائي او د هغه ذبیحه حلاله او سر او مال یې خوندی شی.

دوهمه درجه دا ده چې په ژبه هم اقرار وشی او له زړه هم باور او عقیده پیدا شی خو د اسلام په ښونو اوامرو او نواهیو عمل ونه شی.

دریمه پوړۍ د ژبې او زړه له اقرار سره سره له لویو ګناهانو ډډه وشی او هغه فریضې او دندې پوره کړے شی چې پرینښودل یې کبیره (لویه) ګناه ده لکه لمونځ، حج، زکوه او داسې نور. په یاد دی وی چې په حدیثونو کې چې د لمانځه حج، او کوه پرینښودونکو ته کافر ویلي شوی نو د هغې مطلب د ایمان له همدغی درجې وتل دی او دا معنا نه لری چې ګوندې دغه کس د ایمان له ټولو پړاوونو وتلی او کافر شوےدے.

ځلورمه مرتبه دا ده چې بنیادم په خولی او زړه له ایمان او اقرار سره سره ټول واجبات او دندې تر سره کړی او له ټولو محرماتو ځان وساتی.

پنځم پړاو دا دی چې له واجباتو سره سره مستحبات هم تر سره شی او په ټولو محرماتو او حرامو کارونو سربیره که مکروهاتو هم ډډه وشی.

او د ایمان شپږم پړاو دا دی چې بنیادم ځنې مباح او روا کارونه هم ونه کړی له دې ویری چې چرته د بدۍ لپاره سریزه جوړه نه شی او د کوم غلط کار سبب نه شی. لکه له زیاتو خبرو په دې وجه ډډه وشی چې له خولې کومه ناوړه او ناخوښه خبره ونه وځي یا د چا غیبت ونه شی دا د نبیانو او وصیانو د ایمان درجه ده او همدې پړاو ته امام تر ټولو کامل ایمان ویلےدے.

ایمان یوازې د هغې دنیا توښه نه ده بلکې په دې دنیا کښې هم ورپوری د انسان هوساینه او نیکمرغی تړل ده نو کله چې د انسان په زړه کې د پوی لوی او لویې او وسمنې هستۍ تصور پیدا شي او د خدای مننې جذبه را څرګنده شي نو هغه بیا د ځنو دندو او مسئولیتونو احساس کوی او دې ته په پام سره له غلا بدو خیانت ظلم او داسې نورو بدیو څنډۍ ته شی او د خود غرضۍ او ځان منمۍ له پړاوه ورتیر شی د ښو اخلاقو او رودو داسې ښلګې وړاندې کړی چې پر ټولې ټولنې اغیزه شیندی او تر ډېره حده د ټولنې او معاشرې نا انډولۍ ختمې شي.

که څه هم د حکومت قانون او حساب کتاب تر یوه حده د دغو مفسدو او ککړتیا و مخه نیسی خو د قانون ویره د انسان په

دننه کې هیڅ بدلون نه راولي او حکومت تر هغه حده کار کولی شي چې په وس کې یې وي قانون له بازارونو دکانونو او د مفسدو له مرکزونو څخه بدی، ورکولې شي خو د کور په کوټو او د شپې په تیارو یې وس نه رسي او بدی هماغه راز روانه وي نو په داسې وخت کې یوازې د خدای ویره د انسان اروا متاثره کولې او له بدیو منعې کولې شي د حکومت چاروال کله وي کله نه وي او کله پخپله دومره بد شي چې د نورو څارونکو ضرورت ورته پیښ شي خو اخلاقي وجدان او ضمیر چې د ایمان په برکت غښتلې وي هره ګړۍ د څارنې او ساتنې دنده ترسره کوي که هغه رڼا وي او که تیاره خلوت وي او جلوت او آبادۍ وي او که ورانه.

**یقین:**

که په یو څیز دومره علم حاصل شي چې د خلاف اړخ یې هیڅ احتمال پاتې نه شي نو دې ته یقین وایې نو یقین د دوو علمونو ټولګه ده یو د معلوم د علم او بل د معلوم څیز د خلاف د محال والي او نیشتوالی. یقین د ایمان دوهمه نامه ده لکه د خدای رسول چې فرمایي: «الیقین ایمان کله» «همدا یقین بشپړ ایمان دے» دا یقین درې پړاوه لري لومړے دا چې لوړے وګورو او د اور په شته والي یقین پیدا کړو دا د استدلالیانو یقین دے او هغوی ته د مقدمو او سریزو د ترتیب له مخې حاصلیږي. دې ته علم الیقین وائي. دوهم پړاو دا دے چې اور پخپلو سترګو ولیدے شي دا خاصو خاصو کسانو ته د زړه د سترګو او بصیرت له امله حاصلیږي لکه چې کله زعلب یماني له امام علي پوښتنه وکړه چې هل رایت ربک آیا تا خپل رب لیدلے؟ نو امام وفرمایل: «لم اعبد ربا لم اره» «زه د هغه خدای بیخي عبادت نه کوم چې سترګو ته می څرګند شوے نه وي»

دې درجې ته عین الیقین وائي.

دریمه درجه دا ده چې بنیادم د اور لمبو ته ور ودانګي او له اوره خبر شي دا د شهود د خاوندانو علم دے چې هغوی ته د فیض او رحمت له سرچینې سره له یو ځای کیدا وروسته حاصلیږی دی ته حق الیقین وایې امام دې الیقین ته افضل الیقن (غوره یقین) ویلے دے او له خدایه یې همدغه لوی پړاو ته د رسیدا غوښتنه کړې ده.

**نیت:**

د کوم عمل د کولو لپاره ارادې او هوډ ته نیت وایې او دا د تعلم او عمل ترمینځ یوه واسطه او مزے دے چې له یوې خوا په علم پورې تړلے او له بلې خوا په عمل پورې ځکه چې علم نه وي نو اراده نه شي کیدی او اراده نه وي نو عمل نه شي پیښیدے او د عملي قواو د کارولو په وخت نیت یو ارو مرو او طبعي ضرورت دے لکه که د خدای او رسول لخوا بې له نیته د عبادتونو او کړو حکم شوی وے نو دا یو ناشونے کار وُ دلته دا خبره هم څرګندیږی چې نیت هغو الفاظو او ټکو ته نه وایې چې د کوم عمل د کولو په وخت په ژبه ویلے شي ځکه چې نیت په زړه پورې اړه لري او خبرې یا توری په ژبې پورې تړلی وی نو د ژبې په ځای د زړه ارادې ته نیت وائي. دا نیت بیلا بیل پړاوونه لري او د هغو له مخې د بنیادم عملونه سپک یا درانه کیږی که په نیت کې صدق خلوص او د زړه له کومې وی نو عمل به لوړ او هسك وی او که غرض د ځان ښودنه وی نو عمل به سپك او فاسد وی لکه څنګه چې د خدای رسول (ص) فرمایي: «انما الاعمال بالنیات» «عملونه په نیت پورې تړلی دی» په دغو درجو کې لومړے پړاو دا دے چې له عمله غرض ریا او ځان ښودنه وی نو عمل ثواب خو خود نه لری ګناه هم لری په عبادتونو کې ریا په درې ډوله ده لومړۍ دا چې په خپله عبادت کې ریا نه وی خو د عبادت په نورو صفتونو کې غرض ځان ښودنه او نمایش وی د ساری په توګه په کور کې لمونځ لنډ او مختصر ادا کړے شي او په جوماټ کې او د نورو په مخکې اوږد. دوهم ډول دا دی چې په مستحبو عبادتونو کې ریا وشي مثلاً په کور کې او یوازې مستحبات او نافلې ونه شي او چې کله بل چرته وی نو نافلې هم وکړی او د تحجد لمونځ هم وکاندی او دریم قسم دا دے چې په واجبو او فرضونو لمونځونو کې ریا وکړی په دې ډول چې په خپل کور کې لمونځ نه کوی او روژې نه نیسی او د نورو په مخکې هم لمونځ کوی او هم روژه نیسی دا د ریا تر ټولو خطرناك او وژونکے قسم دے. د نیت دوهمه درجه دا ده چې بنیادم د جنت د غوښتنې او له عذابه د بچ کیدو لپاره عمل وکړی دا نیت له اخلاص سره توپیر او تضادونه لری ځکه چې شارع پخپله له هڅولو او ویرولو کار اخستے دے.

دریم پړاو دا دے چې انسان د خدای په نعمتونو او لورینو په شکرانه کې عبادت او عمل وکړی او چې د دې شکر په نتیجه کې یې نعمتونه نور هم زیات شی دا عمل هم خلوص لری ځکه چې هغه عبادتونه چې دنیاوی موخې او غرضونه لری په هغو کې د رزق اولاد او داسې نورو شیزونو د زیاتوالی اراده له اخلاص سره منافات او توپیر نه لری.

پنځم پړاو دا دی چې د خدای تعالی د جلال او قدرت تر اغیز لاندی عملونه وکړی.

شپږمه مرتبه دا ده چې د خدای د حکم د تعمیل او پوره کولو لپاره عبادت وکړی او بالآخره شپږم پړاو دا دی چې خدای تعالی د عبادت وړ او لایق وګڼی او هغه ته سر ټیټ کړے شی دا نیت د هغو بندګانو دے چې د تقرب او خدای تعالی ته د نزدی والی لوړو درجو ته رسیدلی دی او همدې ته امام سجاد احسن النیات یعنې تر ټولو ښه نیت ویلے دے ځکه چې په دې کې د ښه والی او د عبودیت او بندګۍ له ښکاره کولو پرته بله کومه جذبه نه وی دا موضوع امیرالمومنین حضرت علی (رض) داسې څیړلی ده «ماعبدتك خوفاًمن نارك ولا طمعاًفی جنتك ولکن وجدتك اهلاًللعبادة فعبدتک» ((ما ستا عبادت د دوزخ له ویرې او د جنت په تمه نه دے کړے بلکه ته مې د عبادت وړ وموندې نو ځکه مې ستا عبادت وکړ))

**عمل:**

اسلام که څه هم علم ته ډیر اهمیت ورکړے خو د عمل پر اهمیت هم سترګې نه شو پټولے البته علم هم هغه وخت اهمیت لری چې عمل پرې وشی او که د عمل تقاضاوې تر پښو لاندې شی او عمل پرې ونه شی نو دغه علم تر جهله هم بدیږی ځکه چې جهالت خو کله کله د عذر راوړلو سبب کیږی خو له علمه وروسته هیڅ عذر او وسیله نه شی اوریدلے نو علم هاله ګټه لری چې عمل هم ورسره مل وی او له دې کبله چې عمل په نیت پورې تړے دے نو په کوم پړاو کې چې نیت وی عمل به هم په هماغه مرتبه کې وی که په نیت کې نمایش او ریا وی نو عمل هم بلاده او که د زړه له کومی او خلوصه وی نو عمل هم د نیکمرغۍ او د آخرت د کامیابۍ سبب کیږی خدای تعالی د عمل ظاهری شکل او بڼې او اندازې ته نه ګوری بلکه د اخلاص هغې جذبې ته ګوری د کومې له مخه چې دا عمل تر سره کیږی که بنیادم په خلوص سره لږ شان عبادت وکړی نو دا تر هغو اوږدو ذکرونو او عبادتونو غوره دے چې خلوص ونه لری او همداسې کړو ته امام حسن الاعمال (غوره اعمال) ویلی دی او خدای تعالی ورته صالح عمل وائي. د خدای تعالی وینا ده چې «فمن کان یرجوالقاءربه ولیعمل عمالاًصالحاًولا یشرك بعبادة ربه احداً» ((کوم کس چې د خدای پاك د دیدار ارمان لری نو صالح عمل دې وکړی او د خپل رب په عبادت کې دې څوك نه شریکوي))

**عدل:**

د افراط او تفریط تر مینځ له مینځ لارې او وسطه کار اخستلو ته عدل وایې په دغې منځ لارې په تللو سره ښه صفتونه پیدا کیږی او له دې د انحراف او کږیدو له کبله رذالتونه او کمکړتیاوې راپنځیږی د اخلاقو بنیادی توکی څلور دی حکمت، عفت، شجاعت او عدل. او په دغو کې هر یو توکے په وسط او د اعتدال په ټکی ولاړ دے او که د اعتدال له مرکزه یې اخوا دیخوا کړې نو بل څه ترې جوړیږی که په حکمت کې افراط او زیاتی وشي نو خباثت او چالاکی ترې جوړیږی او که کمے پکې راشی نو ناپوهی او کند ذهنی ترې جوړیږی په عفت او حیا کې که تفریط او کمے وی نو خمود او بی حسی ده او زیاتی یې هوس او شهوت دے په شجاعت او میړانی کې افراط قار او تهور دے او که له تفریط او کمی کار واخستل شی نو بزدلی او کم همتی ده او همدغه شان په عدالت کې د منځ له لارې په اخوا د یخوا کیدو سره ظلم یا ذلت او سپکاوی جوړیږی. همدغه شان په نورو لوړو اخلاقو کې هم عدل او انډول د هغه د ښه والی او غوره والی سبب کیږی لکه د اقتصادی او منځ لارې ښه والے په دې کې دے چې د بخل کنجوسۍ او اسراف په منځ کې ده او د تواضع ښکلا په دې کې ده چې نه د غرور او تکبر تر حده رسیږی او نه د نفس او ځان د سپکاوی تر حده راکوزیږی غرض دا چې هر لوړ صفت او فضیلت که په خولې او وینا پورې اړوند وی او که په عمل او کړو یا عقیدې پورې د ټولو جوهر عدل او منځ لار ی ده. او له دې کبله چې په هر یو شیز کې له اعتدل او انډول څخه د کږیدو په بڼه کې بیلابیلې لارې پیدا کیږی نو په همدې وجه یې د ضلالت او ګمراهۍ لارې ګڼې او د هدایت سمه لاره یوه ده خدای تعالی فرمایی «ان هذا صراطی مستقیما فاتبعوه ولا تتبعوا السبیل فتفرق بکم عن سبیله»

«دا زما نیغه لاره ده په دې ځئ او د کږو لارو پیروی مه کوئ که نه وی نو د حق له لارې به مو خواره او بې لارې کړی»

**ذکر او فکر:**

ذکر دا دے چې زړه د خدای تعالی له یاده تش او غافله نه وی او فکر دې ته وایي چې بنیادم د کائناتو د پنځون او د فطرت په ښکلاوو کې په ځیرتیا سره د هغه ذات د حسن صنعت کمال ووینی په ذکر سره نفس سپيځلے کیږی او د غفلت پردې څیرې کیږی او په فکر سره د عمل او یقین رڼا زیاتیږی کله چې بنیادم له عقل او فکر څخه کار اخلی او د خپل من او بهر په کائناتو او پنځ فکر کوی نو د هر څیز په ویخ کې ورته یو حکیمانه تدبر او د یوې سترې ستې فکر او پام تر سترګو کیږی کله چې خپل ځان ته وګوری نو کسی چې د نطفې له یو وړوکی ځاځکی یې بنسټ ایښودل شوے دے او تر یوې ټاکلی مودې یې د مور په زیلان کې وده کړې ده او د رنګ او بوی په نړۍ کې د سترګو په رڼولو سره یې د سا اخستلو لپاره هوا د تندې لپاره اوبه او د لوږې د ختمولولپاره د هرې خوا ته د رزق او نعمتونو پریمانه سرچینې موندلی دی او خپل بدنی جوړښت یې په داسې پیاوړی نظام سره سر څپه شوی چې هیڅرته پکې د ګوتې نیولو ځای نیشته په دا ډول چې د هډونو په برکت ولاړ کړی شو او په دغو هډوکو کې د رګونو جال داسې خپور شو چې له سرتر پښو پکې وینه زغلی او هر غړی ته له خپلې اړتیا او ضرورت سره سم خواړه رسیږی او د هډونو پندونه او جوړونه یې داسې سره یو ځای کړی چې په کنبښناستو پاڅیدو او تګ راتګ کې هیڅ خنډ او مشکل نیشته او د بدن هره برخه خپله دنده سمه تر سره کوی د دغې منظمې کارخانې او د دې کوټلی نظم په لیدلو سره بنیادم هیڅکله د دې خبرې منلو ته نه شی تیاریدلے چې دا جوړښت د بې شعوره مادې له برکته او د ځنو توکو او عناصرو د اتفاقی یو ځای کیدا او تصادم نتیجه ده ځکه چې که داسې وی نو دومره نظم نظام او ترتیب به یې نه درلود او دا نظم او انضباط د دې خبرې دلیل دے چې یوه تدبیرونکې او سموونکې هستی شته. او څومره چې په دې لړ کې د بنیادم فکر او ځیرتیا زیاتیږی نو په خدای تعالی باندې یقین او عقیده هم پخیږی او د هغه له مشور مخه د شکونو او ابهامونو پلو هسکیږی. امام جعفر صادق فرمایی: «العجب من مخلوق یزعم ان الله یخفی علی عباده و هو یری اثر الصنع فی نفسه بترکیب یبهت عقله و یبطل حجته» «زه حیران یم هغه کس ته چې دا ګمان کوی چې خدای تعالی د خپلو بندګانو له سترګو پناه دے حال دا چې دغه کس په خپل ځان کې د هغه ذات د صفت او جوړښت داسې نښې وینی چې په ترکیب ترتیب او جوړولو یې د ده عقل حیران او د هغه هر دلیل ماتوی»

همدا شان کله چې انسان پنځ او کائناتو ته سترګې غړوی نو ګوری چې په څنګه بشپړ او کامل حکمت سره، لمرمیاشته او ستوری د ځلا او پړقا سامان برابر وی او په فضا کې هرې خوا بادونه خپاره دی چې د ځمکې په هر ګوټ کې خلک سا واخستلے شی او په دغو څپانده څپو سره د ختیځ او لویدیځ غړونه او اوزاونه راغونډ کړے شی او د ځمکې دا فرش یې څنګه د انسان د اوسیدو لپاره تیار کړے چې نه دومره سخته ده چې پښې خوږ کړی او نه دومره نرم دے چې پښې پکې ننوځی او په ځمکنیو توکو کې یې د نامیه قوت په پیروزینې سره د دې لغړبدن د زرغونتیا په جامو وپوښه او لمن یې له میوو او رنګارنګ ګلونو ور ډکه کړه او د خړوبو لپاره یې له هسکه ورښت راولیږه او له غرونو یې د خوږو اوبو چینې وبهولی او په زیرمو کې یې ارزښتناکه دهاتونه او اوسپنې پټې کړی نو ایا دا هر څه خپل پخپله شوی که نه د کوم پنځګر د ګوتو کمال دے نو کله چې انسان په خپل من او بهر کې دا خورې ورې نښې وګوری نو د هغه ذات په شتون کې یې هیڅ شك نه پاتې کیږی او په زړه کې یې یقین پخیږی. لکه څنګه چې خدای تعالی فرمایی: «وفی الارض ایات للموقنین و فی انفسکم افلا تبصرون» «د یقین لرونکو لپاره په ځمکه کې بیشمیره نښې دی او پخپله په تاسو کې دننه هم نو تاسو دومره هم نه ګورئ؟»

بیا چې کله انسان د دنیا اوښتونونه او بدلونونه وګوری چې څه جوړیږی هغه ورانیږی چې څه غوړیږی هغه مړاوې کیږی او څه چې پنځیږی هغه مړیږی نو آیا د شکست او ریخت او تیت و پرکتیا دا ټوله فابریکه بې له کوم هدف او غرضه جوړه شوې.
کله چې انسان دا فکر وکړی نو دې نتیجې ته رسیږی چې کله هر یو څیز څه نه څه موخه او هدف لری نو د دې لوی ژوند هم یو غرض او مقصد شته او کله چې له هرې ورانیدا وروسته جوړښت او له هرې ړنګیدا وروسته سمښت موجود وی نو له دې

فاني ژونده وروسته هم یوه تل پاتې او همشینې زندګی پکار ده چې د دنیاوی ژوند مقصد وی او کله چې بنیادم دا دوه ژونده سره پرتله کوی او کسی چې د یو پایله فنا او د بلې نتیجه بقا ده نو اورومرو به په څو ورځنی ژوند تل پاتې ارامیتا ته ترجیح ورکوی کله چې انسان دې نتیجې ته ورسیږی نو د عمل خوځښت او د آخرت د توښې فکر ورغاړی شی او د آخرت د توښې د برابرولو او د نیکو عملونو د کولو لپاره چمتو شی لکه څنګه چې امام علی فرمایی:

«التفکر یدعوا الی البر و العمل به» ((تفکر او فکر کول نیکۍ او په نیکیو عمل کولو ته رابولی))

**تقوی:**

د تقوا هغه تاثر او حالت ته وایې چې د خدای تعالی د عظمت او سترتوب په تصور سره د انسان په زړه او ذهن کې پیدا کیږی او د هغې له کبله د خدای تعالی اطاعت او د فرض پوره کولو ته تیاریږی چې د لویې ورځې له پوښتنې او د دوزخ له اوره ځان وساتی خدای تعالی ډیر صفتونه او ښیګڼې په تقوی پورې تړلی دی چې څه پکې دا دی چې په قرآن شریف کې هم راغلی دی.

1- تقوی یو ښه او ستایلے صفت دے لکه څنګه چې خدای تعالی فرمایی:

«و ان تصبروا و تتقوا فان ذالك من عزم الامور» ((که تاسو صبر وکړئ او تقوا ته مخه کړئ نو دا د ډیرې حوصلې کار دے.

2- تقوا انسان له مکرو حیلی او د شیطان له چلولونو ساتی لکه څنګه چې لوی څښتن فرمایی:

«وان تصبروا و تتقوا لا یضرکم کیدهم شیئا» ((که تاسو صبر او تقوا ته مخه کړئ نو د هغوی مکر به هیڅ تاوان در ونه رسوی))

3- تقوی د خدای تعالی د تائید او مرستې وسیله ده لکه څنګه چې پاك خدای فرمایی:

«ان الله مع الذین اتقوا» ((خدای تعالی خو له هغه چا سره دے چې له هغه ویریږی))

4- تقوی له سختیو د خلاصون او د رزق د پریمانۍ سبب کیږی لکه څنګه چې راغلی دی

«و من یتق الله یجعل له مخرجاً و یرزقه من حیث لا یحتسب» (( څوك چې له خدایه ویریږی نو خدای به ورته د ژغورنې لاره پیدا کړی او له هغه ځایه به ورته رزق رسوی له کومه چې د هغه ګمان هم نه وی))

5- تقوی د عمل د اصلاحیدو او سمیدو وسیله ده خدای تعالی فرمایی:

«اتقوا الله و قولوا قولاً سدیداً یصلح لکم اعمالکم» ((له خدایه ډاریږئ او کله چې خبره کوئ نو سمه او رښتیا یې کوئ نو خدای به مو عملونه درسم کاندی))

6- پرهیزګاری د خدای تعالی د مینې لامل ګرځی لکه څنګه چې پخپله فرمایی:

«ان الله یحب المتقین» (( بې شکه چې خدای تعالی له پرهیزګارو سره مینه لری))

7- د عملونو او کړو قبلیدل په تقوی پورې تړلی دی لکه څنګه چې خدای تعالی فرمایی:

«انما یتقبل الله من المتقین» ((خدای تعالی یوازې د متقیانو عملونه قبلوی))

8- تقوی د ګناهانو د بخښلو ذریعه ده خدای تعالی فرمایی:

« ومن یتق الله یکفر عنه سیئاته ظم له اجراً» ((څوك چې له خدایه ویریږی نو هغه به یې ګناهانې لیرې کړی او ستر اجر به ورکاندی))

9- تقوی د عزت او نیکمرغۍ سبب کیږی لکه څنګه چې خدای تعالی فرمایلی دی:

«ان اکرمکم عندالله اتقیکم» ((بې شکه په تاسو کې د خدای په نزد هغه کس ډیر عزت لری چې ډیر پرهېزګار وی))

10- دا د کامیابۍ او بری سبب کیږی خدای تعالی فرمایی: «واتقوا الله لعلکم تفلحون» ((له خدایه ویریږئ چې فلاح بیامومئ))

11- دا د مرګ په وخت د زیرې او بشارت سبب ده خدای تعالی فرمایي:

«الذين امنوا و کانوا يتقون لهم البشرى فى الحيوة الدنيا و الآخرة» (( هغه کسان چې ایمان یې راوړ او له خدایه یې ویره لرله او لرې یې د دوی لپاره د دنیا په ژوند کې هم زیرے دے او په اخرت کې هم))

12- تقوی او پرهیزګاری د ژغورنې او نجات سبب کیږي د خدای تعالي وینا ده چې ثم ننجى الذين اتقوا بیا هغوی ته نجات ورکوو چې ویریږي.

13- دا د آخرت د فوز او کامیابۍ ضامنه ده. لکه چې فرمایي «و العاقبة للتقوى» (( د پرهیزګارۍ انجام ښه دی))

**مینه او محبت:**

په دنیا کې د ژوند د تیرولو لپاره چې کوم څیزونه ضروری دی په هغو کې تر ټولو مهم له یو او بل سره ښې اړیکې مینه محبت او مرسته او ملګرتیا ده ځکه چې انسان په خپلو اړتیاوو کې یو او بل ته اړمن دے او له نورو بې نیازه نه شی پاتې کیدای او که بنیادمان پخپلو کې ښې اړیکې او مینه ولری نو دغه ضرورتونه په ښه توګه پوره کیدے شی او که په خپلو کې مینه موجوده وی نو د ګیلې ځای نه پاتې کیږی ځکه چې محبت ایثار او سرښیندنې ته اړتیا لری او که انسانان پخپلو کې نزدې اړیکې ولری نو بیا که کوم تاوان هم ورورسیږی سترګې پرې پټوي له همدې کبله د شرعې خاوند پنځګونو لمونځونو د جمعې د لمانځه غونډې له یو او بل سره غاړه وتلو لاس ورکولو او ناستې پاستې ته ځانګړے اهمیت ورکړے دے چې په خلکو کې د مینې او مودت مزے ټینګ شی او د یو او بل په غم ښادۍ کې شریك شی او د نورو اړتیاوې پوره کاندی.

**صله رحمی:**

صله رحمی دې ته وایې چې بنیادم له خپلو خپلوانو سره اړیکې غوڅې نه کړی او هغوی ته کوم تاوان هم ونه رسوی او نه د هغوی په هکله کومه داسې خبره وکړی چې زړه یې وځوریږی بلکه له هغوی سره هر ډول مرسته او خواخوږی پکار ده او د ضرورت او محتاجۍ په وخت که وس لری نو مرسته یې پکار ده که په کومې ستونځې او لانجې کې ښکیل وی نو د ژغورلو لپاره یې منډې ترړې ووهی که ناروغ وی نو پوښتې ته یې ور شی او په غم او ښادۍ کې یې ګډون وکاندی د دې صله رحمۍ فایده دا ده چې په دې سره د مینې او محبت جذبې پیاوړی کیږی او انسانان په یو او بل پورې ښلوی او هغوی په وخت د یو او بل په کار راځي د یو او بل په درد او غم کې شریك وی او د دې اجتماع او یووالی په وجه ټولنه مضبوطه او پیاوړې کیږی.

او په حدیثونو کې راغلی دی چې په دې سره عمر زیاتیږی او فقر او پریشانی کمیږی.

**احسان:**

له چاسره نیکی کول احسان دے د احسان میوه په دنیا کې ملاویږی او په آخرت کې هم انسان چې کله له نور سره ښه سلوك کوی نو الانسان عبید الاحسان انسان د احسان بنده دی له مخې مقابل لورے د هغه له دې ښه سلوك او خواخوږۍ متاثره کیږی او په زړه کې یې د مینې او ښیګڼې جذبې پیدا کیږی او د دې احسان په بدله کې خپله ټوله خواخوږی او همدردی هغه ته وقف کوی او دغه بنیادم پخپله هم چې کله د ذاتی غرضونو ریا او ځان ښودنې له جذباتو پرته له چاسره نیکی کوی مثلاً کوم وږے مړوی یا د نا چاری مرسته کوی نو یو داسې ملکوتی خوند محسوسوی چې له مادی مزو څو چنده زیات وی. او که څوك مو احسان ته د نا قدرۍ او نا شکرۍ په سترګه وګوری نو زړه نه دی بدول پکار ځکه چې دا احسان بې ځایه نه ځی ځکه چې هم په دې دنیا کې د روحانی سکون او خوښۍ سبب کیږی او د آخرت د توښې او دولت د زیاتیدو سبب ګرځی خدای تعالی فرمایي: «و الله يحب المحسنين» « خدای تعالی له احسان کوونکو سره مینه کوی»

**چشم پوشی:**

که انسان یوازې د نورو عیبونه لټوی او هیڅکله له چشم پوشۍ او د ځان له ناګاره کولو کار وانه خلی نو خپل ژوند هیڅکله خوندور نه شی جوړولے ځکه چې په انسانانو کې عیبونه خووی او که څوك یې په هر عیب نظر ولری او هره خبره یې اشوا کړی نو هغه کس یې په سترګو کې سپکیږی او ښه پرې نه لګی او په نتیجه کې ښه تعلقات له منځه ځی او په دا ډول په خپله لاسه

خپل دوستان له لاسه ورکوي او د ضرورت په وخت یې هیڅوك مرسته نه کوي نو انسان ته پکار دی چې په ځای د دې چې د نورو عیبونه نیمګړتیاوې ولټوي ځان سم کړي لکه رحمان بابا چې وائي:

چې مـــدام د بل وعیبوته نظر کا
خدای له خپله عیبه ولې ناخبر کا

**ښه اخلاق:**

دا هغه جوهر دی چې په خپلو ځلاوو سره هرې خوا ته د خوښۍ او خوشحالۍ ګلونه شیندی او زړه او مازغه د غم او غوسې له تاوانونکو اغیزو ساتی او بنیادم ته تازه والے او خوښي ورکوي. کوم کس چې ښه او نرم اخلاق لري هغه نه یوازې پخپله خوشحاله او خوښ وی بلکه نورو ته هم د خوښۍ او مسکا دسترخوان غوړوی او په دې ډول ډیر په آسانۍ سره د نورو مرسته او ملګرتیا لاسته راوړي او خپل وران کارونه رغوي.

**منځګړتیا او پخلا کول (اصلاح ذات البین):**

د غلط فهمیو او بدګمانیو لرې کول او د دوو کسانو پخلا کولو ته اصلاح ذات البین وائي په دې منځ ومان کې که یو کس د حقیقت او واقع په خلاف خبره وکړي مثلاً یو کس ته د بل لخوا ووایې چې هغه ستا په باره کې داسې ښه خیالات لري او ستا په باب یې داسې ښه خبره کړې ده او بل ته ووایې چې پلانی خو ستا ډیر صفت کاوه نو دا خبرې که څه هم د واقع او حقیت په خلاف دی خو له دې امله چې هدف او غرض یې مهم او ښه دے نو دغه مصلحتی دروغ باك نه لري او شرعاً روا دی او د دې په نتیجه کې د دواړو زړونه د یو او بل لپاره صفا کیږي او زړه بدۍ له منځه ځي همدی اهمیت ته په پام سره خدای تعالی فرمایي چې: «انما المومنون اخوه فاصلحوا بین اخویکم» (مومنان په خپلو کې ورونه ورونه دی نو که پخپلو کې کوم زړه بدون ولري پخلا یې کړئ)

**رېښتیا ویل:**

د علم او یقین له مخې د کومې خبرې کول رېښتیا او د حقیقت او واقع خلاف خبره کول دروغ دی البته د حقیقت خلاف ځرګندونه که په سر سره وی که په لاس سره او که په بلې کومې اشارې سره ټولو ته دروغ وایې رښتیا د اخلاقی جوړښت او په ځان باورۍ او د ذهنی ارامتیا سرچینه ده او په دروغو سره د ذهن او فکر کرارے له منځه ځي ځکه چې رښتیا له فطرت سره سم او دورغ له فطرته تیریدنه او بلوسه ده که له یو ماشومه چې په غلط چاپیریال او ماحول کې نه وی پاتې شوے پوښتنه وکړې نو خپل پخپله یې په خولې رښتیا خبره راځی او په لومړی ځل چې له چا دروغ او د حقیقت خلاف خبره واوری نو حیرانیږي چې دا لا څه وائ؟ او دا خبره یې په طبیعت ورانه راځي.رښتنې انسان بې له کومې وسلې په ځان کې دومره طاقت لري چې مقابله یې ګرانه ده. د دې په اپوټه دروغجن سړی هر وخت په دې اندیښنې کې وی چې دروغ یې ښکاره او رسوا نه شی او تل په ذهنی ګډوډۍ او سر بډایۍ کې ښکیل او څپڅپانده وی او له دې کبله چې خلك پرې باور نه کوي نو په خپلو سترګو کې هم سپك او ذلیل شی. اسلام د ټولنې د سمون او د یو او بل د مرستې او ملګرتیا بیرغې دے او دا دواړه څیزونه په رښتنۍ پورې تړلي وی او هم ځکه اسلام غواړي چې هر بنیادم د ژوند په ټولو چارو کې د رښتنۍ او رښتیاوو په لاره روان وی که څه هم رښتیا او صداقت هغه له ډیرو ګټو محرومه او له ډیرو تاوانونو سره مخامخ کړي. امام علی فرمایي:

«علامة الایمان ان تو ثر الصدق حیث یضرك علی الکذب بحیث ینفعك» ((د ایمان نښه دا ده چې که په یو ځای کې بنیادم ته له رښتیاوو تاوان او له دروغو ګټه هم رسیږي نو رښتیاوو ته مخه کړي))

(هغه صفتونه چې باید انسان یې ونه لري چې د اخلاقو تربیت او روزنه ښه وی دا دی.)

**بدعت:**

د بدعت لغوی مانا ده نوے څیز او په اصطلاح کې هغه څیز ته وایې چې د قران او سنتو خلاف وی او په دین کې دننه کړے شی. دا کار حرام او چورلټه ګمراهی ده لکه د نافلو او سنتی لمونځونه په جمع سره کول. د جمعې په ورځ د بانګ زیاتول له

وخته مخکې روژه ماتی. د مسحې د ځایونو وینځلو د حقو د امام په خلاف بغاوت کول او داسې نور البته هر نوی شیز ته بدعت نه وایې شهید رحمت الله علیه په قواعد کې لیکلی دی چې یوازې هغو شیزونو ته بدعت وایې چې د حرامو دلیلونه یې موجود وی او د کومو چارو چې د حرامو دلیلونه نه وی هغو ته حرام نه وایې بلکه ځنې پکې واجب دی لکه د کتاب او سنتو تدوین او برابرول (کله یې چې د ضایع کیدو خطر وی) او ځنې چارې مستحبې دی لکه د دیني مدرسو جوړولو او ځنې مکروه دی لکه د جمات سینګارول او ځنې مباح دی لکه په ارام او هوساینی سره ژوند تیرول.

**قیاس:**

په دین کې قیاس دې ته وایې چې د یوې مشترکې چارې په وجه د یو شیز حکم په بل هم لاګو او عملی کړو په دې وجه چې دغه مشترك او ګډ امر د دغه حکم علت او سبب وګڼو او د علت یووالی د معلول د یووالی او اتحاد تقاضا کوی.

دا قیاس په درې ډوله دے لومړے قیاس منصوص العلته دی یعنې په علت یې نص راغلے دے لکه د خدای رسول (ص) فرمایي: «حرمت الخمر لاسکارها» «شراب د نشه کولو په وجه حرام دي» او په دی حدیث سره نشه راوړونکی شیز حرامیږی دا قیاس صحیح دے ځکه چې شارع ئې پخپله علت بیان کړے دے.

بل ډول قیاس بطریق اولی دے لکه خدای تعالی چې فرمایي ولاتقل لهما اف «مور او پلار ته اُف قدرې هم مه وایئ له دې څخه معلومیږی چې ځورول او ازارول خو بیخي حرام دی دا قیاس هم د اولویت په بنیاد سم او صحیح دے.

دریم قسم قیاس مستنبط قیاس دے د دې مطلب دا دے چې یو کس پخپلې رای او فکر سره علت راوباسی او استنباط یې کړی او همدا د حکم مناط او شرط وګرځوی دا قیاس د اهل تشیع له نظره سم نه دے ځکه چې کوم علت په خپلې رای او خیال سره علت ګرځول شوی وی ضروری نه ده چې هماغه علت وی مثلاً د غله لاس که د دینار د ځلورمې برخې په وجه پرې کیږی نو که قیاس وکړو پکار ده د غاصب لاس هم همدومره غوڅ کړے شی حال دا چې که هغه زر دیناره هم غصب کړی لاس یې نه پرې کیږی له همدې کبله ګرانو امامانو موږ له داسې قیاسه منعې کړئ یوو چې د انسانانو په رایو او خیالاتو سره د شریعت صحیح او روغه شیره خرابه نه شی لکه څنګه چې امام جعفر صادق فرمایي: «والسنة اذا قیست محق الدین» که په سنتو کې له قیاس کار واخستل شی نو دین به ختم شی.

البته یوه ډله دا قیاس صحیح ګڼی او شرعی ماخذ او منبع یې ګرځوی ابن قتیبه په المعارف کې د دغې ډلې د نامتو کسانو نومونه راوړی دی چې دا دی ابن ابی لیلي، ابو حنیفه ربیع بن ابی عبدالرحمان، زفر ابن هذیل، عبدالرحمان ابن عمرو اوزاعی، سفیان ثوری، مالك بن انس، قاضی ابویوسف او محمد ابن الحسن الفقیه، په دغو ټولو کې ابو حنیفه ځانګړے نوم لری ذهبی په میزان الاعتدال او د میرې په حیوة الحیوان کې دے د قیاس او رای د خاوندانو امام ګڼلے دے. او محشری په ربیع الابرار کې د یوسف ابن اسباط دا وینا راخستې ده

« ردابوحنیفه علی النبی اربع مائة حدیث اواکثر» امام ابوحنیفه څلور سوه یا تر دې زیات حدیثونه د قیاس په مقابله کې نا قابل عمل ګرځولی دی.

**عجب او کبر:**

عجب (ځان ستاینه، ځان خوښونه) دا ده چې انسان په خپل کوم ښه صفت ناز کوی او ځان تر نورو لوړ او غوره ګڼي فرق نه کوی که دغه ښه صفت او ښیګړه په ده کې وی او که نه وی او کوم شیز چې دیے خوبې او ښه صفت ګنی هغه په حقیقت کې ښه والے وی او که ونه وی. او کبر او غرور دې ته وایې چې د نورو په وړاندې داسې کارونه او کړه تر سره کړي چې د ځان لوړاوے او اوچتوالے او د نورو سپکاوے او ذلت پکې څرګند وی مثلاً له چاسره ډوډۍ په کښیناستلو باندې یې تندی تریو شی له غریبو او بې وزلو سره ناسته پاسته او اړیکې ښې نه ګڼی په لاره کې تر نورو د مخکې کیدو کوشش کوی له نورو سلام ته منتظر وی او په خبرو کې بې پروایې کوی او نورو ته کومه خاصه پاملرنه نه کوی دا ټول شیزونه د کبر او غرور ښنې دی داسې کس تل د رحمت له بارانه بې برخې وی.لکه څنګه چې کله باران کیږی نو له لویو او لوړو څوکو اوبه راتیریږی او

غوبو او ژورو ځایونو ته ځي او هغه خړبوی همدا شان دا کس هم د غره د څوکې په شان د رحمت له وربښته محرومه وی. د دې غرور او ځان خوښونې علاج دا دے چې انسان باید خپل پیل او پای یا آغاز او انجام وګوری چې (اوله نطفه و آخره جیفه) پیل یې له نطفې شوے او پای یې مرداره ده او بیا دې خپلې عاجزۍ، بې وسۍ او لاچارۍ ته وګوری چې څرنګه د ژوند په هره شیبه او هره سا کې محتاج او اړمن دے او هره ګړۍ د نورو د تکیې او مرستې منتظر. کله چې وزیږید نو د نورو روزنې او پالنې ته سترګې په لاره کله به چې مری نو ان قبر ته د رسولو لپاره هم د ملګرو مرستې ته اړمن او څومره چې ژوندے دی هره شیبه او ان په جامو ډوډۍ، استوګنې دوا درملو او په نورو ډیرو چارو کې د نورو سهارې او مدد ته محتاجه د ده په مقابلې او پرتله خو د ځناور د احتیاج کړۍ هم تنګه ده ځکه چې لږ تر لږه خپل کور او خواړه خو پخپله برابروی جامو ته ضرورت نه لری مرضونه یې کم دی او کله چې ناروغ هم شی نو پخپله د ځان علاج کوي که انسان په خپل حسب نسب او خپل قام مغروره وی نو لږ خودې په خپل ګریوان کې سوچ وکړی چې په دې کې د ده کوم کمال دے چې ګوندې لوی نسب او تپه د ویاړ سبب شی. انسان ته دا کتل پکار دی چې آیا هغه د خپلو پلار نیکونو د کمالاتو وارث دے یا د اسلافو د شرم او دا خبره لا کمه ده چې هغه د ویاړ او کبر د مانۍ د جوړولو لپاره له ورستو هډونو کار اخلی او که مشرانو او پلارنیکونو د شرم کارونه کړی وی نو په هغوی فخر هم شرم دے او که بنیادم په مال او شتو غرور لری نو دا دې وکسی چې دا مال خو له برص وهلو او جذامیانو سره هم غونډیدے شی او کافران یې هم پریمانه لری نو په هغه څیز څه ویاړ چې کافران پکی هم تر بنیادمه مخکې وی او که انسان په خپلو متو او زور کبر لری نو میږی ته دې وګوري چې شپه او ورځ ګرځی او تر ځانه څلورسوه چنده زیات بوج اوچتوی او ستړے کیږی نه او د شاتو (ګبین) مچۍ د یو ځاځکی ګبین د جوړولو لپاره د دریو سوو ګلونو اوبه او رس څوبې خو ستړی کیږی نه او ماشے په ډیرو لږو خواړو سره هم تږوله ورځ الوزی او بنیادم که یو څو ګینې هم پلے لاړشی نو ستړے کیږی.

**حسد:**

دا یو سخت روحی مرض دے چې حاسد د چینجی په شان له دننه ډډوی او په دې هم پوهیږی چې په حسد سره د محسود کس هیڅ نه شی کمولے او نه ترې نعمتونه او اسانتیاوې اخستلے شی نو بیا د حسد په اور کې سوزیدل د عقل بیخی خلاف خبره ده بلکه نورو ته د تاوان د رسولو پر ځای خپل ځان ته نقصان رسیږی او انسان له ارامتیا کراری او ذهنی سکونه محرومه کیږی لکه څنګه چې د خدای ګران رسول (ص) فرمایی چې: «اقل الناس لذة الحسود» ((د حاسد خله تر ټولو ترخه وی)) که هغه ته دا باور وی چې خدای تعالی چې هر څه کوی په هغه کې د هغه ذات حکمت او مصلحت پټ دے که چا ته ډیر مال شته او عزت ورکوي نو هم د مصلحت له مخې یې ورکوی نو له هغه سره حسد کول د الهی مصلحت او حکمت خلاف خبره ده او یو ډول سر غړونه او الحاد دے چې له خیر او نیکمرغۍ د بې برخیتوب سبب کیږی.

**قار او غضب:**

دا هم یوه نفسیاتی او روحی ناروغی ده چې په نتیجه کې یې انسان بې قابو کیږی او له خولې یې داسې ناوړه او ناخوښه خبرې وځی یا یې لاس پښې داسې غلط حرکت کوی چې پایلې یې بدې وی که په دغه هیجانی حالت په صبر او زغم سره برے حاصل کړی شی نو د ډیرو مفسدو او بدیو مخه نیول کیږی او په مقابل لوری دا اغیزه شیندی چې هغه په دې زیاتې چې په ده یې کړے دے پیښمانه او شرمنده شی او د خپلو خطاګانو په اعتراف سره معذرت ته تیاریږی او په دې چارې سره تریخوالے په خوږوالی بدلیږی.

**غیبت:**

پس شا په یو مومن پسې بد ویلو ته غیبت وایې دا یو داسې ناخوښ عادت دے چې انسان مجبوروی چې د نورو په عیبونو او نیمګړتیاوو پسې وی چې د خپل عادت د پوره کولو لپاره ورته مواد په لاس ورشی پاک خدای دا خوی د مردارې خوړل بللی دی چې د انسان فطرت له دې کار کرکجن کړی لکه څنګه چې خدای تعالی فرمایی: «ولا یغتب بعضکم بعضا ایحب احدکم ان یاکل لحم اخیه میتاً» ((تاسو د یو او بل غیبت مه کوئ آیا په تاسو کې څوك دا خوښوی چې د خپل مړ ورو غوښه

وخوری))

له غیبته د منعې کولو او له دې د کرکې پیدا کولو لپاره تر دې ښه تعبیر بل کوم دے چې خدای تعالی غیبت داسې ګڼلے لکه د خپل مړ ورو غوښه خوړل خدای تعالی دا قید او ورته والے د دې لپاره راوړے چې مړی په خپله ژبه نه څه ویلی شي او نه بنیادم په لاسو سره منعې کوے او تم کولے شی چې څنګه دې زړه غواړی مړی سره کوے او غوښه یې جدا کوے شی. همدا حال د هغه کس هم وی چې غیبت یې کیږی ځکه چې هغه نه د غیبت کوونکی خله بندولے شی او نه یې منع کولی شی ځکه چې دا تړولې بدی. د هغه پس شا کیږی د دې غیبت پایله دا ده چې لومړے په خپلو کې کرکه او نفرت پیدا کړی بیا ورو ورور د دې کرکې کړی. دومره پراخه شی چې کورنیو او خپلوانو ته ورشی او د داسې مفسدو سبب شی چې تباهی. او بربادی. رامنځته کوي.

**بدګمانی:**

د کوم مسلمان او مومن په باب د خپلو جوړو کړو ګمانونو او قرائنو په وجه فاسد او ناوړه خیال پیدا کولو ته سوُظن او بدګمانی وایې دا چاره د فطرت د ککړتیا او خیانت او د من د بدوالی څرګندوې ده او د دې له امله په خپلو کې د تعاون او ملګرتیا فضا له منځه ځی او په همدې وجه خدای تعالی بدګمانې ګناه ګڼلې او خلك یې له دې منعې کړی دی خدای تعالی فرمایي: «یاایهاالذین امنوا اجتنبو کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم» ( ای ایمان راوړونکو له ډیرو بدګمانیو ځان وساتئ ځکه چې ځنې ګمانونه او شکونه ګناه ده)

او د خدای تعالی ګران رسول (ص) فرمایي چې: «ان الله حرم من المسلم دمه و عرضه و ان یظن به ظن السوء» ((خدای تعالی د مسلمان د وینې بهیول د هغه په عزت تیری کول او د هغه په هکله د بدګمان لرل حرام کړي دی)) بدګمانی. ته هغه کس په زړه کې ځای ورکولے شی چې خپل زړه یې صفا نه وی ځکه انسان په هرې هنداري کې خپل مخ ګوری او لکه څنګه چې پخپله دی د نورو په باب هم همداسې تصور کوی او د چا زړه چې صفا او روڼ وی هغه خپل زړه ته بدګمان نه پریږدی او نه په خله داسې خبره کوی چې بدګمانې ترې ښکار شی دا ډول بدګمانی. یوازې د شیطانی غولونو نتیجې دی ځکه چې په دننیز حالت او باطنی کیفیت باندې له خدایه پرته بل څوك نه شی خبریدے او نه څوك په چا کې وردننه کیدی او د هغه د ښه والی او بدی. اندازه لګولی شی او نه یې د زړه په حال پوهیدای شی نو د چا په باب بې له کتلو او بې له خبریدلو د کوم تصور او خیال پیدا کول یوازې له دې امله وی چې شیطان د داسې کس په واهمه طاقت کې د نیکی. د تصور په ځای د بدی. تصور او خیال پیدا کړے دے او کوم تصور او خیال چې د شیطانی وسوسې پایله وی په هغې عمل کول غلط کار دے مثلاً که یو کس څوك وګوری چې خیرات ورکوی نو دا تصور کول چې دغه سړے د نمایش او ځان ښودنې لپاره دا کار یا نور کارونه کوی سم کار نه دی بلکه د ظاهر په لیدلو سره له ښه ګمان او حسن ظنه کار اخستل پکار دی پاتې شو نیت نو د هغې پته خو خدای ته ده او هم هغه به یې محاسبه کوی. البته د دې مطلب دا نه دی چې انسان باید په هر څه باور او ښه ګمان ولری چا ته چې وغواړی کور ورپریږدی چا ته چې وغواړی خپلې پیسې وسپاری او څوك چې کومه ادعا او خبره وکړی بې دلیله یې ومنی دا کار د عقل او احتیاط خلاف کار دے په داسې ځایونو کې حسن ظن او ښه ګمان بنیاد نه شی ګرځول کیدی او نه بې له ازمیښته په هر چا باورپکار دے لکه څنګه چې امیرالمومنین حضرت علی»

((له ازمیښت او تللو پرته په هر چا باور کول د عاجزی. او کمزوری. دلیل دی))

**سپکې سپورې:**

دا د بازاری خلکو کار دے چې د ځان په شان خلکو کې په ناسته پاسته کې سپکې خبرې کوی او د بدو ردو عادت لری خو یو شریف او معیاری کس هیڅکله کومه سپکه خبره په خوله نه راوړی او که چرته داسې ضرورت پیښ شی او مجبوره شی چې سپکه خبره وکړئ نو په دیرې اشارې او کنایې سره یې کوی او په څرګنده یې له ویلو ډډه کوئ.

**ښکنځل:**

دا عادت د نفس د خباثت او ککړتیا ننبه ده او د دې هدف نورو ته د تاوان رسول دی یا کله کله په سپکو او بدانو کې د

ناستې پاستې په وجه بنیادم په کنځلو روږدی کیږي په هر حال که دا چا ته د تاوان درسولو لپاره وي یا د عادت له مخې مقابل لورے ډیر قار او غوسه کوئ او د دې په وجه کله کله جګړې فساد او وینې بهیولو ته خبره رسیږي او کله کله خو د وژنې په شان د دروند جرم سبب شي. نو که څوك کنځل وکړي نو په ځای د دې چې د کنځلو ځواب په کنځلو ورکړئ باید له زغم او صبره کار واخستل شي او انسان ځان له کنځلو او سپکو سپورو وساتی چې دا لړۍ اوږده نه شي.

**اسراف:**

په یو ځای کې تر اندازې او ضرورته زیاتو خرچولو او لګولو ته اسراف وایې او ځنې کسان دې ته دریا دلی او د زړه ستروالے وایې او چرته چې د یوې روپۍ ضرورت وي هلته لس خرچوي او په بلنو او نمایشونو کې د زړه براس اوباسی او که چرته له غریب او ناکس سره د مرستې او مدد موقع راشي نو د مالی کمزورۍ د لاس د تنګوالی او د بازار د خرابۍ بین غږوي داسې ستر زړه او دریا دلی د ځان ښودنې او نام و نمود د هوس نتیجه وي او همدې ته اسراف وایې که دا اسراف د خوراك او څښاك په چارو کې وي نو انسان له ډول ډول ناروغیو سره مخامخوي او که په نورو چارو کې وي نو هم انسان د تباهۍ ګړنګ ته ارتاو کوي داسې ډیر شوي دي چې چا د نمایش او ځان ښودنې لپاره په ودونو کې ترحده زیات خرچونه کړي او بیا تش لاس او سروهلی او بر وهلی ګرځي.

**تبذیر:**

په کوم ځای کې چې خرچ نه دے پکار هلته خرچولو ته تبذیر وایې د دې بې ځایه سخاوت نتیجه دا وي چې د داسې سړي د خوشامدیانو غوړه مالو او بازاریانو بازار ګرم وي چې د ده بې ځایه ستاینې او غوړل کوي دغه کس خود پسنده شي او دغه غواړوو کسسان خپل رښتني دوستان ګڼي او پیسي پرې لګوي او غریبانان یتیمانان او بیوزلی له خیر او پیسو محرومه وي دا بې ځایه خرچونه او لګول د بدبختۍ علامت او له اخروي نیکمرغۍ د محرومیدو سبب کیږي. امام صادق فرمایي:

«اذا اردت ان تعلم اشقی الرجل ام سعید فانظر سیبه و معروفه الی من یصنعه فان کان یصنعه الی من هو اهله فاعلم انه الی خیر و ان کان یصنعه الی غیر اهله فاعلم انه لیس له عندالله خیر»

((کله چې ته په دې پوهېدل غواړې چې پلانکے کس نیك دے که بدمرغه نو د هغه خرچولو او ورکړې ته وګوره چې په چا یې خرچوي اوله چاسره ښه سلوك کوي که هغه په اهلو او مستحقو کسانو خرچ کوي نو د ښیګڼې او خوبۍ په لاره روان دی او که نا اهلو ته یې ورکوي نو یاد لره چې د خدای په نزد هغه هیڅ ښه والی نه لرے))

**سوال:**

نورو ته لاس اوږدول له خپل عزته د لاس اخستل دی له همدې کبله هیڅ عزتمن او درووند کس په ډیرې تنګسیا کې هم له چانه سوال نه کوي دا په دنیا کې هم د مختورۍ سبب دے او په آخرت کې هم او پوښتنه به ترې کیږي لکه څنګه چې امام جعفرصادق فرمایي: «

ایاکم سوال الناس فانه ذل فی الدنیا و فقر تعجلونه و حساب طویل یوم القیمة» (له خلکو د سوال له کولو او د خېر له غوښتلو ځان ساته ځکه چې دا په دنیا کې د سپکاوي او سر کوزۍ سبب او په آخرت به یې هم حساب کتاب کیږي) د سوال او غوښتلو عادت عموماً د فقر او ناداری په وجه پیدا کیږي. په دې سره د انسان د نفس او ځان عزت ختم شي همدې چارې ته په پام سره صالحان او نیکان له احتیاج او تنګ لاسۍ پناه غواړي چې داسې نه وي دا کار یې خبر غوښتلو ته مجبوره کړي او د اخلاقو پاکوالے ختم شي په مال او دولت کې هم که انسان یې صحیح خرچ کړي نو خپل نیك اخلاق ساتلے شي د خدای ګران رسول (ص) فرمایي:نعم العون علی تقوی الله الغناء... مالی پراختیا او شتمنی په الهی تقوی کې مرسته کوي. د همدغو شتو په وجه انسان مالی عبادتونه ترسره کوي او حج زکوه خمس کفاره، صله رحم او صدقې... دا ټول په پیسو پورې تړلی دي.

---

**ترجمه او تشریح: عبدالرحیم دراني**